احمدشاه راشد ۲۰۱۹/۰۱/۲۰

# ایران ته تللي اکثریت افغان کډوال په نېشه ئي توکو روږدي شوي

**سریزه:**

د ژمي په دې سړې هوا کې د افغانستان په ګڼ مېشتو ښارونو خاصتاً کابل ښار په چوکونو، کوڅو او کنډوالو کې هغه ځوانان تر سترګو کيږي چې د سياسي يا هم اقتصادي مشکلاتو له امله له افغانستان نه همسايه او يا هم د نړۍ نورو هېوادونو ته ګډوال شوي وو. چې اوس يې اکثريت بېرته له بهرنيو هېوادونو په زور يا هم په خوښه افغانستان ته راستانه شوي. زياته برخه يې په مخدره توکو روږدي شوي ؛ نه سرپناه لري او نه هم د روزمره ژوند د پر مخ بېولو لپاره اړين توکي. نه د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې له لوري د دوی ژوند ته کومه توجه شوې. موږ دلته يوازې په هغه افغانانو باندې بحث کوو چې له افغانستان نه ايران ته د سياسي يا هم اقتصادي مشکلاتو له امله کډوال شوي وو. او اوس چې بېرته افغانستان ته را ستانه شوي زياته برخه يې په مخدره توکو روږدي شوي دي.

ولې روږدي کيږي؟ د روږدي کېدو عوامل يې څه دي؟ او افغان حکومت ته څه کول په کاري؟ او دېته ورته پوښتنو ته دلته ځواب ويل شوی.

**په ایران کې افغان کډوال:**

د شوروي اتحاد له يرغل وروسته د افغانستان ډېری خلک له افغانستان نه همسايه او د نړۍ نورو ملکونو ته کډوال شول چې زياته برخه يې ايران او پاکستان ته وو. [1]اوس هم ددې جګړه ځپلي هېواد تقريباً 2.5 ميليونه اوسېدونکي په ايران کې کډوال دي (1.7 ميليونه يې غير راجستر او 840000 يي راجستر ښودل شوي دي).د ايران ټول نفوس ۳ فيصده تشکيلوي، چې 97% يې په ښاري سيمو کې اوسيږي.

[2] د UNHCR او نورو بهرنيو موسساتو د راپورونو په اساس افغان کډوال چې ايران کې اوسيږي اکثريت يې ځوانه طبقه تشکيلوي؛ د دوی اوسط عمر يې ۳۱ کال ښودل شوی.

[3]افغان کډوالو په دې موده کې د بيخی لږ امتيازونو او مزد په بدل کې د ډېرو سختو کارونو لکه کرنې، مالدارۍ، ډبرې ماتولو او ودانيزو چارو په ترسره کولو سره، د ايران په اقتصادي غوړېدا کې د پام وړ رول لوبولی دی.

[4]ددې ترڅنګ د ايران دولت تل له افغان کډوالو څخه د افغان دولت پر وړاندې د فشار د يوې وسيلې په توګه کار اخيستی دی. په داسې حال کې، چې افغان دولت له دې امله کوم فشار نه دی احساس کړی او نه يې احساس کوي. له افغان قانونی او غيرقانونی کډوالو سره د ايران د پوليسو چلند هماغه يو ناسيوناليستی ليد دی، چې پر قومی برترۍ ټينګار کوی او په کې اسلامی رافت او رحمت هيڅ نه تر سترګو کيږی.

د محمود احمدی نژاد د ولسمشرۍ پرمهال، چې يارانه (يو ډول کوپن دی) لغو شو او په دې توګه د ډوډۍ، اوبو، بريښنا، ګازو او پټرولو بيې څو ځله لوړې شوې، نو د ايران دولت د خپلو وګړو حسابی بانکونو ته په مياشت کې يوه اندازه پيسې زياتولې، خو د افغان کډوالو په تړاو نه افغان دولت د مسووليت احساس وکړ او نه له هغوی سره ملګرو ملتو کومه مرسته وکړه. پر دې سربيره، د افغان کډوالو لپاره د ايران د نويو قوانينو له مخې، د دوی اقامتی کارتونه د درې او شپږو مياشتو لپاره تمديدېږی او د هر تمديد لپاره بايد زياتې پيسې ورکړل شی. [5]کارګر افغانان بايد د کار د جواز کارت د نورو پيسو د ورکړې په بدل کې ترلاسه کړی. د افغانانو اولادونه بايد په ايرانی

[1] https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC5554007/#ref1
[2] https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC5554007/

[3] tps://8am.af/pashto/afghan-refugees-iran-border/

[4] https://8am.af/pashto/afghan-refugees-iran-border/
[5] http://www.menahra.org/images/pdf/Afghan-Refugees-Iran-Drug-Use-Problem.pdf


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولۍ

ښوونځيو کې د فيس د ورکړې په بدل کې زده کړه وکړي او د روغتيايي لګښتونو په برخه کې هم له هغوی سره هيڅ راز مرسته نه کيږی.

په ايران کې افغان کډوال په دوه برخو وېشلی شو:

- سياسي کډوالي: هغه کډوال دي چې د شوروي يرغل يا هم د داخلي جګړو له امله کډوال شوي.
- اقتصادي کډوالي: هغه کاريګر ځواک کډوال دي چې انګيزه يې يوازې او يوازې په کار پسې سرګرداني ده.

**په ايران کې افغان کډوال ولې په نېشه ئي توکو اخته کيږي؟**

ډېری افغانان ايران ته د کار لپاره ځي او بل پر ايران د کډوالو تېره شوې ترانزيټي لاره ده. اروپا ته چې څومره افغانان ځي، د ډېری لاره پر ايران ده. له همدې ځايه ده چې د نورو عواملو ترڅنګ اروپا ته د افغانانو تګ هم په ايران کې د افغان کډوالو شمېره زياته کړې، چې ډېرى يي په مخدره توکو باندې اخته کيږي په داسې حال کې چې افغانستان د نړۍ ۹۰ فيصده ترياک توليدوي، محمد رضا ستانکزی د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو اداري عالي رتبه کارمند دی. هغه زياته کړه؛ ډېری سروې ګانې چې تر سره شوې دي؛ پايلې يي دا ښيي چې زياته برخه په مخدره توکو د روږدو کسانو له هېواده بهر روږدي شوي دي.

**په ايران کې په نېشه د اخته کېدو عوامل:**

- کار ځای او د چا سره چې کار کړي د هغه لخوا تشويق او زمينه ورته مساعدول؛ تر څو دوی نېشه وکړي په کم وخت او د کمې حق‌الزحمې په بدل کې زيات کار د زيات وخت لپاره وکړي.
- د کم عمر لرونکي د اقتصادي مشکلاتو له امله خپل هېواد پرېږدي ايران ته ځي.
- د کورنی او هېواد نه لرې د ډېر وخت لپاره مسافري کول.
- ارزانه او په آسانه ډول باندې د نېشه يي توکو تر لاسه کول.
- کومه پاليسي چې د ايران حکومت يي د نيشه ئي توکو د کرکيلې، تجارت او استعمال په اړه لري افغان کډوال چې هلته اوسيږي ترې مثني دي بلکې دوی ته دا زمينه هم برابروي چې په اسانی سره دوی د نېشه يي توکو نه استفاده وکړي.

ګلاب او فيض الله دوه هغه ځوانان دي چې شپږ کاله وړاندې دوی ايران ته د کار لپاره تللي وو. دوی په نېشه د روږدي کېدو کيسه دا ډول بيانوي: موږ لومړی ځل ايران ته د ۱۳۹۲ لمريز کال د شلو ورځو سختو ستونزو او تکليفونو ګاللو وروسته چې په لار کې مو تېر کړل مشهد ته چې هلته مو کليوالو کارګړ ورسېدو زموږ کليوال استاد احمد يوه ايراني ته چې هغه د خښتو بټۍ درلوده د کار لپاره ور معرفي کړو هغه به هره غرمه او د شپې لخوا نېشه يي توکي راوړل وېلې چې دا استعمالوی بيا نه ستړي کيږی موږ هم نه پوهېدلو چې ددې تاوان به څه وي نو موږ به هغه استعمالول چې کله به مو استعمال کړل په هغه ورځ به مو د ورځې د زيات وخت لپاره ډېر کار کړ ولې له څو کلونو تېرېدو وروسته آخر يي داسې حالت ته راورسولو چې کله افغانستان ته راغلو د يو څه وخت تېرېدو وروسته چې څه پيسې را سره وې هغه خلاصې شوې کار مو نشو کولای نور مجبور شولو چې د نېشه ئي توکو د پيدا کولو لپاره غلا وکړو د کابل ښار په مختلفو ځايونو کې به ګرځېدو د جوماتونو نه به مو بوټونه غلا کول، د ورځې به مو کوټي سنګي کې موټر ډکول چې يو څه پيسې به مو پيدا کړې بيا به مو په هغه باندې نېشه ئي توکي پېرل نو د يو څه وخت تېرېدو وروسته د کور غړو لخوا د ده‌افغانانو له ساحې چې هلته موږ د نورو معتادينو سره ؤو. دلته د معتادينو کلينيک ته راوستلو چې اوس دلته تداوي رابادي کيږي.

**افغان حکومت ته څه کول په کار دي:**

د افغانستان د ټول نفوس تقريباً ٪۱۰ يي په نېشه ئي توکو باندې روږدي دي. چې سبب يې هم په افغانستان کې امنيتي ستونزې، اقتصادي مشکلات، فقر او بې‌کاري، د کار لپاره همسايه هېوادونو ته تګ او د عامه پوهاوی نشتون هغه عوامل دي چې دری ميليونه افغانان اوس نېشه يي توکو باندې اخته دي.

- **د زده کړې‌کولو زمينه برابرول:** په افغانستان کې اوس هم له نيمايي زيات کسان بې تعليمه دي د دوی لپاره د زده کړې زمينه مساعدول تر څو دوی وکولای شي چې په کومه برخه کې يي زده کړې کړې وي هغه برخه کې ورته د کار زمينه برابره شي
- **د کار زمينه برابرول:** [6]په افغانستان کې د کارونو د ايجاد لپاره ډېرې لارې شته دي لکه د کرنې په برخه کې، معادنو په برخه کې څکه افغانستان يو زراعتي هېواد دی او په زياته اندازه معادن هم لري چې که چېرې د

---

6 https://www.researchgate.net/publication/305904185_Drug_use_among_refugees_Case_of_Afghan_refugees_residing_in_the_five_most_refugee-populated_provinces_of_Iran


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

هغه د ایستلو لپاره کار وشي هم به خلکو ته د کار زمینه مساعده شي او هم د افغانستان د اقتصادي وضعیت د پرمختګ سبب شي نو له دې سره به هغه ځوانان چې د کار لپاره ایران هېواد ته ځي چې اکثریت یې هلته په نېشه ئي توکو باندې روږدي کیږي هغه ته به په خپل هېواد کې د کار زمینه برابره شي.

- **د عامه پوهاوي لپاره د روزنیزو ټرېنېنګونو جوړول:**[7] پورته مو ذکر وکړل چې د افغانستان اوس هم له نیمائي یې ډېر له تعلیم نه محروم پاتې شوي نو هغه ته د نېشه ئي توکو د ضررونو په اړه روزنیز ټرېنېنګونه ورکول.

پای

احمدشاه راشد د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز غړی

[7] http://moph.gov.af/Content/Media/Documents/Issue41992017151271335533253325.pdf


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځير و لولئ